# سل ټوکې



پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وګاريځ !
زموږ ټيلګرام چينل لينک
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فيسبوک پاڼه
آريان پښتو کتابتون

لیکوال او ژباړونکی: زاهد افغان

# سل ټوکې

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځاړئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

لیکوال او ژباړونکی: زاهد افغان

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

## کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | سل ټوکې |
| لیکوال او ژباړونکی | : | زاهد افغان |
| ډیزاین | : | ثناءالله څواب |
| خپرندوی | : | ګودر خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال | : | ۱۴۰۴ لمریز |
| د چاپ وار | : | لومړی |
| د چاپ شمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

ګودر کتاب پلورنځی، لاندیني پوړ، اسحاق زی مارکیټ، بزازۍ څلور لارې، جلال آباد ـ meenagoodar@gamail.,com

# ډالۍ

**هغه چاته چې د مطالعې سره مینه لري.**

**ز. افغان**

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

## فرمایش

یو ترنمی په کور کې میرمنی ته ویل: وایه گرانی څه درته زمزمه کړم؟
میرمن ورته ویل: چې څه دی خوښ وی زمزمه یې کړه،هسې هم د گاونډیانو غوسه راپاروې.

## د مستو بوی

سپین گل:یاره نن چې هر لور ته ځم د مستو بوی راځي.
تورگل: ونیسه مړه زما دپگړی سر خوله او بریتونه پرې پاک کړه.

## معصومیت

میرمن: زه مړه کیږمه
میړه: زه هم مړ کیږم
میرمن: زه خو ناروغه یم ته ولی کړ کیږي؟
میړه : له ما نه به دومره خوښي ونه زغمل شي.

t.me/AryanPashtoLibrary

## کنجوسی

شیخ: زما میرمن ډېره فضل خرچي کوی کله سل کله دوه سوه روپی غواړی؟
دوست: نو په دومره روپو څه کوي؟
شیخ : پته نشته ما کله ورکړی نه دي.

## پیل

یو سندغاړیي خپل ګاونډي ته ګیلی کولو سره وویل: ښاغلیه! زه چې کله هم سندره شروع کړم ستا سپی غیږي.

ګاونډی ورته ځواب ورکولو سره وویل: په دی کې زما د سپی څه قصور دی پیل خو لومړی ستا د لوری وي.

## ډار

یو کس بل ته ویل: زما د یو ملګری ښځه وتښتیدله بله ورځ ورپسی هغه هم وتښتیدو.

t.me/AryanPashtoLibrary

بل کس ورته وویل: نو هغه ولی وتښتید؟

لومړی کس ورته وویل: ډاریدد چې هسی نه بیرته رانه شي.

## د خیټې درد

د یو سړی په خیټه درد و. چې روغتون ته دننه شو نرس ته یې ویل:چې ډاکټر صیب چرته دی؟

نرس ورته ویل: ډاکټر صیب د عملیاتو په خونه کې دی دیو سړی د خیټي عملیات کوی.تېره اونۍ تری بیاتی په خیټه کې پاتی شوی وه.

## لوبغاړی

د کرکټ یو لوبغاړی ډاکټر ته ویل: په یوې عجبه ناروغۍ اختـه شـوی یم،هر وخت راباندی سر گرځي،نه منډې جوړولی شم ،نه بال کولای شم او فیلډینگ مې په داسی حال دی چې ستړی کیږم،کله چې کیچ نیسم بال راته نه ښکار کیږي،نو ډاکټر صیب اوس راته وایه چې زه څه وکړم؟

t.me/AryanPashtoLibrary

ډاکټر ورته وویل: ستا د ناروغۍ یوه درملنه ده چې کرکټ پریږده

لوبغاړی ورته وویل: دا خون اوس ناشونی ده ځکه چې په ملي لوبډلـه کې شامل شوي یم.

## وزه،کوزه،ویزه

ښشتی گل لږ په غوږونو درون وو،ملنگی تری پوښتنه وکـړه: هلکه!سـتا ویزه څنگه شوه.

ښشتی گل ویل: وزه می اوس رکه روغه ده ډانگټر صیب ته می وړی وه ملنگی لږ ورنږدی شو وویل: وه سړیه وزه نه ویزه درته ښایم ویزه.

ښشتی گل ویل:خه خه... پوه شوم هغه کوزه یادوی چې گل اغا نه مې پټه کړی وه. اوس هم پرې اودسونه کوم.

## د نظر دوکه

یوې انجلۍ خپل اشنا ته د ګیلې کولو سره وویل: پرون چې زه په بازار کې روانه وم تا ولیدمه خوسترګې دې واړولې دعا سلام دې هم ونه کړ.

هلک ورته وویل: ومې لیدې خو تا سره ستا پلار روان وو.

انجلۍ ورته په خندا سره وویل: نه ...نه هغه خو مې مور جانه وه .

## خوشې تاوان

د ښځې او خاوند به هر وخت جګړه وه اخیر خاوند پـه تنـګ شـو او د خودکشۍ اراده یې وکړه لنډه دا چې هغه د زهروه یوه پوڼۍ واخیسته او ویې خوړله خو مړ نه بلکې ناروغ شو پرې ښځې خپل مخ پـه سـپړو وهلو سره وویل: ځوځله مې درته ویلې چې بازار کې څه اخلې سم یې ګوره دومره پیسې خوشې تاوان شوې او کار هم پرې ونه شو.

t.me/AryanPashtoLibrary

## رغونه

یو بندي د محبس ساتونکې نه پوښتنه وکړه تاسې د زندان حالت ولې نه رغوې؟

ساتونکې ورته وویل: ولې څه خرابي ده په کې؟

بندي وویل: اته ځلې دلته راغلې یم او هر ځل د روشن دان لـه لارې تښتیدلې یم.

## رښتیا

قاضي: مجرم ته وویل: ستا لکه چې کوم وکیل نشته؟
مجرم ویل: نه قاضي صیب د وکیل اړتیا نشته ما هسې هم د رښتیا ویلو پریکړه کړې ده.

## لږ وخت راکړه

یو شتمن هلک د یوې ښایسته انجلۍ پلار ته په ډېرې عاجزۍ سره وویل: که ته د خپل لور واده ما سره وکړې نو د هغې د وزن مطابق به سره زر درکړم.
د انجلۍ پلار ویل: ما ته لږ وخت راکړه.
هلک ویل: د فکر کولو لپاره؟
د انجلۍ پلار به ځواب کې ورته وویل: نه د وزن زیاتولو لپاره

## اندیښنه

احمد په ورځ پاڼې کې د یوې سروې خبر لوستو نه وروسته سر راپورته کولو سره عبدالله ته وویل: آیا پوهېږې زمونږ په هیواد کې شپیته لکه تلویزنونه او څلویښت لکه غسل خانې جوړې شوې دي
عبدالله ورته برګ کتلو سره وویل: ښه نو له دې نه څه لاسته راوړنه مخې ته راځي.
احمد په اندیښنې سره وویل: مطلب دا چې شل لکه خلک بغیر لمبیدو تلویزنونه ګوري.

## تشویش

ناروغ ډاکټر ته ویل: ډاکټر صیب ټوله شپه د یخنۍ نه لړزیږم.
ډاکټر په تشویش سره وویل: آیا د یخنی سره دی غاښونه هم کړچیږی؟
ناروغ وویل: صیبه ددی پته خو راته نشته
ډاکټر: په حیرانتیا سره هغه څنګه؟
ناروغ: هغه می ویستلی دی او په میز ایښی وي.

## درنه ضمواری

فالګر دیو سړی لاس کتو سره وویل: په لنډ وخت کې د بریـالی کیـدو سره به یوه درنه ضمواری درپه غاړه شي.
سړی په خوښی سره وپوښتل: ژر وایه څرنګه ضمواری؟
فالګر ځواب ورکولو سره وویل:په راتلونکو ورځو کې به سـتا واده شـپږ منه درنی او اوه فوټه اوږدی ښځی سره وشي.

## خوش نصیبه

د تلویزون په یو تفریحی خپرونه کې نتاک د یوی ښځي وپوښتل: سـتا په خیال د نړی تر ټولو خوش نصیبه میرمن څوک ده؟
ښځی وویل: بې بې هوا
نتاک وویل: هغه څنګه؟
ښځی وویل: ځکه چې د هغی خواښی نه وه.

## مرسته

یو خاوند کورته رادننه کیدوه سره میرمن ته وویل: د یوی خیریه ټولنی کسان راغلي دغریبانانو مرستی لپاره زړی جامی ټولوی آیا په کور کې زړی جامی شته که نه ؟

میرمن ورته لږ فکر وروسته وویل:یو خو ته هغه خپله خړ رنګه جوړه ورکړه،چې د تېرو اتلس کلونو څخه یې اغوندی او بل زما هغه ګلدار پړونی ورکړه چې تیره اونی می اخیستی وو.

## دارو

یو سړی هټیوال ته وویل: آیا له تا سره به د موږکانو دارو وي؟

هټیوال وویل: هو شته، ایا ته به یې خپله وړې؟

سړی په غوسی سره وویل: نه خپله یې نه وړم بلکی موږکان به ورپسی راوړلېږم.

## غلطی

خاوند په غوسی سره میرمن ته وویل: هره ورځ زما دشیانو تلاشی اخلی،روزانه یو نه یو شی ورک وي چې پوښتنه وکړم بیا وایې چې غلطی رانه شوی ده خو داځلی ببنه نه شته ژر وایه زما د سروزرو ساعت چیرته دی؟

ښځی وویل: رښتیا هم له ما نه غلطی شوی ده اصل کې هغه مې زرګر ته ورکړی دی چې ګاڼه پرې راته جوړ کړي

## پنچر

د موټر څښتن د موټروان نه پوښتنه وکړه دا ټير ولی پنچر شو.
موټروان ویل: ښاغلیه په شیشی وختو؟
د موټر څښتن په غوسی سره وویل: نو تا شیشه ونه لیده؟
موتروان وویل: څنګه مې لیدلی وای شیشه خو د هغه سړي په جیب کې وه چې د موټر لاندی شو.

## کټ مټ

په فلم کې ممثلی د یوی نیکی خوانبی کرداراداء کولوپه ننداره چیانو کې یوی انجلۍ بلی انجلی ته ویل: کاش داسی خوانبی زما هم په نصیب شي.
د شاتنی چوکۍ نه یو نارینه غږ راغی زما مور کټ مټ همداغه شانی ده.

## مرستیاله

د بیارغونی د وزارت یو مدیر ناوخه کورته رادننه شو میرمن پری غږ کړ نن سبا ډیر ناوخته راځې لکه چې نوی مرستیاله دی نیولی ده.

## چرګه

زوی مور ته وویل: موری ته ولی ما ښوونځي ته لیږی؟
مور ورته وویل: ځکه بچیه چې له تا نه انسان جوړ شي.
زوی ورته وویل: خدای خبر که ستا دا ارمان پوره شي.
مور یې په حیرانتیا سره وویل: دا ولی؟
زوی ورته وویل: ځکه چې ما نه هره ورځ یه ښوونځی کې چرګه جوړوي.

## لیونتوب

یو لیونی یل لیونی ته ویل مړه دا لیونی خو زه هم یم،نه ګریوان شکوم او نه خلک په کاڼو ولم،خو تا د لیونیانو نوم وشرمولو.

## نه سخات نه خیرات

یو لیونی به هری جنازی ته تللو،یوه ورځ یې لوډسپیکر کې د جنازی اعلان واوریدو،د یو کلیوال نه یې پوښتنه وکړه: څوک او چېرته مړ؟
کلیوال ورته وویل: فلانی مړ لس بجی جنازه
لیونی وویل: ښه سمه ده
سبا تری هغه کلیوال پوښتنه وکړه: جنازی ته تللی وي؟
لیونی وویل: دله مړی نه سخات نه خیرات

## فساد

د يو سياسي تنظيم مشرپه يوی غونډی کې تقرير کولـو او ځـان يـې د فساد نه پاک ښودلو، ويل يې ورونړو په دې ښار کې سلګونه پروژې لګيا دي، خو ما په يوی پروژې کې هم برخه نه ده اخيستي.

د تالار نه يو غږ وشو کينه مړه ټيکداري خو دې ورونړه تر سره کوي.

## ماته څه پته ده

يو سړي د کرايه کور ليدو ته ورغلی وو کور د ابادی نـه لـرې پـه يـوه دښته کې جوړ شوی وو.

سړي د کور څښتن نه پوښتنه وکړه دلته خو به د چا سـوری مـوری نـه وي؟

د کور څښتن ورته په دروند غږ سره وويل: ماته پته نشـته خپلـه مـې د مړيني شل کاله کيږي

## پوښتنه

يو ټوکمار ممثيل د فالګر نه پوښتنه وکړه: په دوهم ځل پيداکيـدو سره خر جوړيدلی شم؟

فالګر ورته په فکرمندی سره وويل: يو شکل بار بار نشی درکول کيداي

## دروغ او رښتیا

دامریکا د ولس مشریزو ټاکنو لپاره دری نوماندان په سیالۍ کې وو،په دوی کې د یو نوماند مرستیال ته تلیفون کولو سره وویل: سهار ډلاس ته ځان ورسوه هلته ستا یو انتخابی رقیب ستا په اړه خلکو ته دروغجنی خبري کوی

نوماند وویل: ډلاس ته به خامخا ورځم خو لومړی هوسټین ته لاړ شم د مرستیال وویل: خو لومړی باید ډلاس ته لاړ شی هلته ستا په اړه دروغ ویل کیږی.

نوماند په کلکه وویل: نه لومړی هوسټین ته ځم هلته زما په اړه رښتیا ویل کیږی.

## سلیزه

د کرکټ دیو لوبغاړی میرمن د سپورټی شیانو دوکان ته لاړه دوکاندار ته یې ویل: ماته یوه سلیزه راکړه

دوکاندار په حیرانتیا سره وویل: سلیزه؟

ښځی ورته وویل: هو سلیزه چې په هر څو کیږي زما د میړه کلیزه ده هغه ته یې ډالۍ کې ورکوم،هغه تل په ژړا وی چې کله مې هم سلیزه په نصیب شوی نه ده

## بیچاره کلیوال

خاوند اخبار لوستو سره میرمن ته وویل: یو کلیوال لیکلی چې مړونو ته په کور کې د خبرو کولو حق نه دی ورکړل شوی
ښځې په هوش دوش کې وویل: بیچاره کلیوال په کور کې څه نه شي ویلی نو ځکه په اخبار کې لیکنی کوی

## د پام وړ

پولیس مشر په ګزمی وتلی وو مخامخ یو ټکسی موټر ډیر په کراره روان وو پولیس مشر په منډه درازه پرانسته مخکنی سټ کې کښیناستو سره یې موټروان ته وویل: ژر شه ستا نه مخکی چې سپین رنګه موټر دي ماته شکمن ښکاری چې هر ځنګه وی ځان ورپسی ورسوه
موټروان ورته په عاجزی سره وویل: نو صیبه په همدی موټر پسی خو ورانه ټکسی تړل شوی ده.

## د جنګ پای

ښه... نو اوس ستا میرمن له تا سره بلکل جنګ نه کوی؟
هو ښاغلیه! اوس بیخی زمونږ جنګ پای ته رسیدلی
پوهه نه شوم هغه څنګه؟
مړه میرمن مې وفات شوی ده کنه

## ناخبره

يو سړی په لاره کې دجنازې سره شريک شو تـر څنـګ سـړی نـه يـې وپوښتل دا څوک مړ شوی؟
بل سړی يو فروفيسر و سر راپورته يې وويـل: زمـا پـه خيـال دی خلکو چې د چا جنازه راپورته کړی ده همدغه سړی وفات شوی دی.

## بيړنی مرسته

ښوونکی زده کوونکو ته د بيړنی مرستی په اړه يو اوږد ليکچر وړانـدی کولو سره وويل: فرض کړه که زه ښوونځي ته راځم او د بانـدی مـا يـو څوک په لغته اوهی يا راسر ټکر شی او زه وغورځيږم نو تاسـو بـه څـه کوي؟
ټول زده کوونکی خاموشه وو د ټـولګی کـونج نـه يوناڅـاپي غـږ وشـو استاذه موږ به رخصتی وکړو.

## همدردي

يو کوچنی ماشوم د ښوونځي نه کور ته په ژړا راغی مورتری وپوښتل: زويه څه شوی ولی ژاړی؟
ماشوم اويل: ښوونکی سخت ووهلمه
مور ورته وويل: ولی په څه خبره؟

ماشوم په معصومه ژبه ورته وویل: په چوکۍ کې د کړکۍ رنګ تـوی شوی وو ښوونکی پرې کیناستو ما فکر وکړو جام یې په رنګ نه شي نـو چوکۍ مې ترې لرې کړه.

## د خندا نه شنه

میره: میرمن ته! ویل تا ونه لیده چې په میلمستیا کې یوی ښځی ماته په مسکا سره کتلپه

میرمن ورته وویل: دا کومه نوی خبره نه ده په لومړی ځل چې مـا هـم ستا موشاده لیدلی وه نو د خندا نه شنه شوی ومه.

## پنځه ورځی

دیوی ناوی نه د هغی همزولی پوښتنه وکړه ستا شاوو هم په خوب کې خریړی؟

ناوی ورته وویل: ماته پته نشته ایله خو می د واده پنځه ورځـی شـوی دي.

## ایماندار ټیکدار

یو سړی په هدیره تیریده ناڅاپه یې یو قبرپه شناخته نظر پری وتو چې پری لیکل شوی وو ایماندار ټیکدار

دغـه سـړی دوه دری ځلـی دغـه جملـه ولوسـته بیـا یـی ځـان سره وویل:عجبه خبره ده په یو قبر کې دوه نفره

## وړتیا

کمپنۍ څښتن: ما ته د یو داسې قوي سړي ضرورت دی چې زمونږ د کمپنۍ څوکیداري په ښه شان سره تر سره کړي
ځوان د ساه سمولو سره وویل: لږ مخکې مې دخپلې وړتیا عملي ثبت ورکړی دی
د کمپنۍ څښتن وویل: هغه څنګه؟؟
ځوان وویل: په دروازه کې چې کوم دولس نفره د چوکیدارۍ د دندې ترسره کولو راغلي و ټول مې ډبولي دي.

## ځواب

ښوونکي زده کوونکي ته وویل: قاتل چاته ویل کیږي؟
زده کوونکي وویل: ولاکه پوهیږم
ښوونکي ورته د مثال په توګه وویل: که ته خپل پلار ووژنې نو تا ته څه ویل کیږي؟
زده کوونکي: ماته به یتیم ویل کیږي.

## علاج

یو دوست بل دوست ته ویل: یاره زما میرمن ډېره غوسناکه ده
دوهم دوست: زما میرمن هم په اولو کې ډېرې غوسې کولای خو اوس داسې نه ده .

لومړی دوست: نو تا یې څنګه علاج وکړو

دوهم دوست: بس اسانه علاج وو یوه ورځ ډېره په غوسی وه نو ما ورتــه وویل: څه خبره ده په زړښت کې غوسی راځی بس د هغی ورځــي تــر ننه پورسی بیا غوسه نه ده کړی.

## نوی امریکایی برش

یو ښاغلی په سرکاری دفتر کې د شـلو کلونـو نـه مـامور وو د هغـه پـه وړاندی تر لسو زیات راغلی او تللی و خو دا ځل چې کوم ریس راغلی وو دده پری دم کار نه وه کړی او دندی یې لری کړی وو،دوست تری د دندی لری کیدو پوښتنه وکړه نو ښاغلی ورته وویل: بس څه به درتــه وایم زما برش پاکستانی وو اوس د کاره لویدلی وه او بله دا چې په دفتر کې اوس داسی کسان پیدا شوی دی چې نوی امریکایی برشـونه لـری چې یو ځل پری ریس صاحب ته بوټان پالیش کړی ټوله اونۍ ځلیږي.

## غټوالی

په روغتون کې یو ِغټ ټپی شوی سړی د سترګو غړولـو سره نـرس نـه پوښتنه وکړه: زه خو د غټوالی (چاغوالی)دلاسه په تنګ شوی وم نـو د ځان وژنی اراده می وکړه او د دوهم پوړ نه مې ځان راګوزار کړ ایا زه لا تراوسه هم ژوندی یم؟

نرس ورته وویل: هو ښاغلیه ته بلکل ژوندی یې خو سـتا دلانـدی چــې کوم څلور نفره وه هغه مړه شوی دي.

## ډېر ښه

په مشاعره کې یو شاعر په خپل نوبت سره دریځ ته راغی ویل یې: وسمه ...لمبه شومه...کباب شومه...ایره شومه...

د تالار نه پری چا غږ کړ: ډېر ښه ...ډېر عالی کله به وی نو چې د سر نه دی لوګی پورته شي.

## په خوب کې

یوی ښځې بلی ښځې نه پوښتنه وکړه: ته سترګې پټې هنداری تـه ولـی ودریږي؟

هغې ورته وویل: پدی خاطر چې وګورمه په خوب کې څنګه ښکاریږمه.

## ښایسته جامی

یو انجلۍ خپل کوژدن ته د سر سری کتلو سره وویل: جـامی خـو دی ډېری ښایسته اغوستی .

هلک ورته په موسکا سره وویل: ستا خوښی شولی

انجلۍ ورته وویل: هو جامی خو مې خوښی شـولی خـو داد دی ونـه ویل: چې دناپ اخیستلو لپاره دی څوک خیاط ته لیږلی وو؟

## ګاپو ، ګاپو ، ګم ، ګم

یو ځوان داصلاحاتو داداری دفتر ته دانټروی لپاره ورغلی و ،منیجر تری ډېری پوښتنی کړی وي او ځوان ورته ټولی پوښتنی ځواب کړي وي ځوان په فخر سره منیجر ته کتل په زړه کې يې ویل: چې د دي پوست صحی حقدار به وي

منیجر د یوي ژوری ساه ایستلو وروسته تری بله پوښتنه وکړه: داراته وواېه چې ګاپو ،ګاپو ،ګم ،ګم څه معنا؟

ځوان ورته په ناهیلی زړه سره وویل: ددی مطلب یا معنا دا چې ته ماته نوکری راکول نه غواړي

## د کرنا ټیسټ

یو کلیوال د شپږو میاشتو هلو ځلو وروسته د ویزی په لګولو بریالی شوی و چې د کرنا ټیسټ ورته بل سر خوږی پیدا کړ پاسپورټ یې په لاس کې نیولی و چې د یو ټګمار کمیشن کار سره مخ شوی وو ،کمیشن کار تری پاسپورټ اخیستی وو ورته یې ویلی وو: په نورو ځایونو کې پنځه زره د کرونا ټیسټ کیږی خو زه به درته په دوه زره دا کار خلاص کړم

یو ساعت وروسته چې کلیوال ورغلی د کمیشن کار ورته پاسپورټ ورکولو سره ویلی و: واخله ماما ټیسټ دی وشو شکر اوباسه چې کرونا نه یې.

## واده

سلیم: اصغر ته ویل یاره ډېرې ورځې په نظر رانغلې چیرته وې؟
اصغر: په روغتون کې
سلیم: اوهو...ډېر افسوس کوم یاره اوس دې صحت څنګه دی؟
اصغر: ورته وویل: نه مړه د افسوس کومه خبره نه شته ما خو د یوې نرسې سره واده کړی دی.

## د کورحال

خاوند میرمن ته ویل: نن شپه مې یو خوږ دوست میلمستیا لپاره دعوت کړی دی
میرمن ورته ویل: تا ته خو معلومه ده چې نن خدمتګارې ترورې په رخصت تللې ده بیا دې هم دوست رادعوت کړی ته نه ګورې په پخلنځي کې ټول لوښې ناولي پراته دي... دخیرنو جامو ډوپۍ هم راته پرته ده...او د کور صفایې هم
خاوند ورته ویل: همدې لپاره خومې هغه کمعقل را دعوت کړی غواړي چې واده وکړي چې ورته وښایم د واده نه پس د کور حال په خپلو سترګو وګوري.

## خوشبوګانې

ساده ګل: عکسخانې والا ته ویل: ماما یو ښایسته عکس وباسم
عکسخانې والا ورته ویل: راځه کینه دې چوکۍ باندې
ساده ګل ورته ویل: لږ صبر شه ماما چې لږ عطر په ځان پورې کړم بیا به مې عکس نه خوشبوګانې خیژي.

## ملاقات

د یو مسافر نـه خبریـال پوښـتنه وکـړه پـه میاشـت کـې څـو ځلـی د جمهورریس سره لیدنه کوئ؟

مشاور ورته وویل: بدبختانه دوه کاله می د دندی کیږي مشاورین دومره زیات دی لار تراوسه د جمهـور ریـس سره زمـا دملاقـات نوبـت نـدی رارسیدلی.

## د ویاند،ویاند

یو ځوان بل ځوان ته ویل: واهلکه ویاندي دی مبارک شه

هغه ورته وویل: خیر یوسی خو زه پنځم نمبر یم

لمړی ځوان ورته وویل: پوهه نه شوم لږ وضاحت وکړه

دوهـــم ځـــوان ورتـــه ویـــل: ۱،۲،۳،۴،۵، مطلـــب دا چـــې دویاند،ویاند،ویاند،ویاند،ویاند یم

## فیسبوکی دنده

صمد،خالد ته ویل: مړه هر وخت دی سر په موبایل ټیټ کړی وي سم کار دی ورته ویلی

خالد ورته په موسکا سره وویل: همدا خو می دنده ده کنه یاره

صمد په حیرانتیا سره وویل: دنده؟

خالد ویل: هو کنه د یو چـارواکی فیسـبوکی ملاتـړی یـم او د هغـه د ستاینی او ملاتړ په اړه لیکنی پورته کوم

## مقابله

یو ملګری ډېره موده پس د بل ملګری لیدو ته ورغلی و ، وویــل یــې: وروره ستا هغه طوطی څه شو چې هر وخت به یې خبری کولای

بل ملګری ورته وویل: وروروه څه به درته ووایم زما د واده نــه وروســته طوطی بیچاره والوت .

ملګری ورته ویل: هغه څنګه؟

لومړی ملګری ورته وویل: هغه بیچاره په خبرو کې زما د میــرمن مقابلــه ونه کړای شوه.

## نقل

احمد شاهد ته ویل: تا د مخ کتو هنداره ولی ماته کړه؟

شاهد ورته وویا: ورکه وه یې مړه هغی زما نقل کوو

## بجلی دین

مدیر د ملازم نه وپوښتل: ستا دپلار څه نوم دی؟

ملازم: بجلی دین

مدیر ورته وویل: ښه نو دا لا څه نوم دی؟

ملازم ویل: مخکی یې څراغ دین نوم وو خو اوس ساینس ترقــی کــړی وه نو ځکه یې نوم بجلی دین شو.

## ازار

یو شاعر د یو راډیو په شاعرانه خپرونه کې میلمه وه نتاک ورته د خپرونی په منځ کې وویل: ښه صاحبه! اوس به درنه یو شعر په ترنم سره واورو.

شاعر ویل : ترنم نه شم کولای همداسی به شعر ووایم

خو نتاک ورپوری کلک نښتی وو چې ترنم به کوې

شاعر ویل: چې نه مې پرېږدی ترنم به وکړم خو... که خلکو خپلی رادیوگانی ماتی کړی نو ازار به یې ستا په غاړه وي.

## لاسته راوړنه

یو چارواکي د رسنیو خبریالانو ته د پوښتنو ځوابونه ورکول،یو خبریال ترې وپوښتل: تاسو په تیرو شلو کلونو کې کومی لاسته راوړنی لری را په گوته یې کړئ؟

د چارواکي خوله کې اوبه پیدا شوي داسی پوښتنی مه کوه کنه دیرش کاله مې نصوار اچولی و خو اوس مې پرېښی دي

## دروغ

د یو فلسفی نه چا پوښتنه وکړه: په نړی کې څومره ښځي د واده خواهش لري؟

فلسفی وویل: ٪۹۹ سلنه

- او دا پاتې یوه سلنه په اړه ستا څه خیال او نظر دي؟
فلسفي ویل: هغه یوه سلنه یې دروغ وایې.

## ترنم ترنم

یو ترنمي ښکلی شعر ترنم کړی و او د یوی محلی راډیو نه نشر شوی و، یوی انجلۍ د ترنمي نمبر پیداکړی و او زنګ یـی ورتـه وهلـی و ډېـر ښکلی شعر و خو...
ترنمي ورته د مننی سره وویيل: خو څه...؟
انجلۍ ورته ویلی و: شعر ښکلی و خو هسی دی په غږ خراب کړی و.

## نوی ایجاد

د ټولي نړی ساسنسدانان یو ځای شوي وو او یو کمپیوټر یـې جوړولـو چې د هر پوښتنی ځواب ورکولای شي، اخیر هـم د ډېـر کوشـش او محنت وروسته د کمپیوټر پـه جوړولـو بریـالی شـوي وو او د ډلـی مشر- ساینسدان د کمپیوټر نه لومړی پوښتنه وکړه: دانړۍ څنګه جوړه شـوي ده؟
کمپیوټر ورته په ځواب کې وویل: د نړۍ د تاریخ کتابونو تـه مراجعـه وکړی.

## سبق

یوی ښځي خپل شرابی خاوند ته د سبق ورکولو لپاره تور رنګه جامی واغوستلی او مخ يې په نقاب پټ کړ ذشپې‌ي ناوخته يې میړه د نشی په حالت کې را روان وو چې کله کوڅی ته راورسید ښځی پری یوه ویرونکی چغه وکړه ، خو میړه يې ونه ډار شو، بلکی پوښتنه يې تری وکړه: ته څوک يې؟
ښځي ورته په برګ غږ سره وویل: زه شیطان یم
شرابی ورته ښه،ښه وویل: بیا خو راتر غاړی وځه مړه ستا دخور خاوند یم.

## غاښونه

ګلخان موټروان ته وویل: پام کوه لاری ته ګوره استاذه
موټروان وویل: ښه صیبه!
دی وخت کې موټروان ناڅابه بریک ووهلو
ګاخان ورته په تیزي وویل: دا څه کوي استاذه اوس دی زما غاښونه وژلی وو.

## سپرلی

یو ساده سړی رکشی وان ته وویل: د تالاشی د چوک څو اخلی؟
رکشي وان ورته سرسری کتو سره وویل: د تالاشي چوک څه زما د پلار دی چې دربانده‌ی خرڅ کړم
ساده سړی ورته بیا وویل: د تالاشي چوک څو درکړم؟

رکشي وان: وروره زه یو شی  هم د خپل ورور مختار د اجازې پرتــه نــه خرخوم

ساده سړی: نو د تالاشي چوک څو غواړی؟

رکشي وان  ورته وویل: اخلی یې او که هسی پوښتنې کوئ؟

ساده سړی: د تالاشي چوک ته ځي کنه زما تادی ده

رکشي وان: نو داسی وایه کنه  مړه راوخیژه چې ودی رسوم.

## هیرزړی

یو ښځي  په ډېری مینی سره  دخپل میړه ذکر کولو  او خپلی سـهیلۍ ته یې ویل: زما میړه  ډېر هیرژن  واقع شوی دی...ما لپاره ډالۍ ګـانی اخلی خو...راکول یې ترې هیریږي...پرونۍ خبره ده یو ګران بیه لپ ټاپ ،سپری او یوه ګوتمۍ مې د هغه په جیب کې پیدا کړه.

## غلطی

یو مشهور جراح  ډاکټر خپل یو ملګری ډآکټر نه پوښتنه وکړه: کله درنه د عملیاتو په وخت کومه غلطی شوی ده چې نه هیریدونکي وي؟

جراح ورته وویل: څنګه غلطی؟

ملګری داکټر ورته ویل: یو سړی راته د عملیاتو لپاره راغلی و زر روپۍ مې ترې فیس اصول کړی هم وه

جراح ورته وویل: دا نو څه غلطی شوه؟

ملګری ډاکټر زیاته کړه هوکنه ډېره وروسته راته معلومه شوه چې د هغه مړینی وروسته پنځوس زره روپې یې په جیب کې خپلوانو موندلی.

## حافظه

یو هلک بل ته وویل: ایا تاته هغه جینۍ په یاد ده چې لومړی ځل دی ورسره مینه کړی وه؟
دوهم هلک ورته وویل: نه یاره حافظه اوس کمـزوری شـوی ده هغـه جینۍ هم راته په یاد نه ده چې نن سحر مې ورته د مینې اظهـار کـړی و.

## میالو او فضلو

په ځنګل کې یو ساده ښکاری خپل ملازم ته وویل: د هغـه ځنـاور څـه نوم دي چې لږ مخکې ما په شاړو ځمکو کې په مرمۍ وویشتو؟
ملازم په بوټوکې دځناور کتو نه وروسته وویل:صاحبه هغه وایې زما نوم فضلو دی او چا چې ویشی یم د هغه نوم میالودی.

## امر منونکې

پیری : څه امر دی زما اقا؟
سړی:زما د کور نه امریکا ته سرک جوړ کړه
پیری: دا خو مشکله ده بل کار وایه
سړی: ښه زما میرمن زما امر منونکی جوړه کړه
پیری: سړک سینګل جوړکړم که ډبل.

## خوشی تیر شو

یو کس لومړی ځل یوی لری پرتی سیمی ته لمریز سولر وړی و،بېرى یې پرې چارج کړی وه او په حجری کې یې تیز گروپ روښانه کړی و،په حجری کې ناستو کسانو د سولر دکمال په اړه خبری کولای یو سپین ږیری ماما په چرت کې ډوب و.

یو چاته ترې پوښتنه وکړه: ماما ولی داسی په فکرونو کې ډوب یې او څه نه وایې؟

سپین ږیری ماما ورته د یو سوړ اسویلی سره وویل: بچیه! زه دا فکر کوم چې دا مخکینی لمر خو له مونږ څخه هسی تیر شو.

## غورځېږی

یو دوست بل دوست ته ویل: یاره د سر ویښتان چې غورځېږی څه کول پکار دی ؟

دویم دوست ورته وویل: د غورځیدلو په وخت کې ځان ترې بچ کول پکار دی.

## ښښنه

یوه غټه او بدرنگه ښځه د سمندر په غاړه ناسته وه دسمندر څپو ته یې کتل دسمندر غاړی سره په شگو کې یو بوتل پروت وو،ښځی بوتل د اخیستو سره پرانستو نو د یو لوگی سره ترې یو غټ پېری راووتلو .

پیری ویل: ښځه زره کاله په دی بوتل کې بند وم له تا نـه ډېـره مننـه چې زه دی ازاد کړم اوس خپل یو خواهش راته ووایه چې درتـه یـې پوره کړم

ښځې ورته وویل: زما شکل د ریما په څېر ،بدن مې د راني پـه څېـر او عمر مې اولس کلن کړه

پیری ښځې ته لاندی باندی کتو سره وویل: ښنه غواړم بیرته مـا بیرتـه بوتل کې بند کړه .

## دواړه

د کمپنی مالك یو ځوان ته وویل: ژر وایه چې ته زمـا د لـور سره واده کولو لپاره راغلی یې او که د دندی اخستلو په نیت؟

ځوان په عاجزی سره وویل: صاحبه دواړه به ونه شی...

## زړه سوی

یو ښاغلی د روغبړ وروسته خپل دوست ته وویل: یاره نن مې دربانډی ډېر زړه سوزیږي.

دوست په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه:په څه خاطر؟

ښاغلی وویل: خبره داسی ده چې زما میرمن یوه ډیره گرانه بیـه جـوړه اخیستی وه او د هغی ښودنی لپاره یې ستا میرمن را دعوت کړی ده.

## نوی سوال

د ریاضی یو استاد په ټولگی کې د یو سوال پیل کولو سره وویل: که د یو موټر اوږدوالی لس فوټه وي او شاته او مخکی تری سل زره موتر ولاړ وي
یو هلك یې خبری پریکولو سره وویل: لکه چې استاد د پلچرخی او کمپنی پوری هر مابنام د موټرود رش خبره کوي

## روخصتی

د یو سړی میرمن د خپل پلار د کوره ه راتل ه سړی په تروش تندی د موټر نه دجامو گنډی راکوزولی د میرمن یې دا هرکل خوښ نه شو ویل یې: سړیه! لږ په خندا خو به دی زما هرکلی کړی و...تا ونه لیده چې د موټرو په اډه کې یو میرمن سره د هغی خاوند سره په موسکا خبری کولای
سړی ورته ویل: هغه ځکه په مسکا و چې میرمن یې روخصتوله.

## پریشانی

مور لورته نصیحت کولوسره وویل: چې کله هم د خپلو همزولو سره په مجلس کې کښینی نو چې هر خبره کوي فکر سره یې کوه؟
انجلۍ پریشانۍ سره وویل:نوموری چې زه فکرونه کومه په دومره وخت کې به موضوع بدله شوی اوسي.

## بااخلاقه

يو سړی بل ته ويل: زما ميرمن ډېره بداخلاقه ده کله هم راته نه خاندي
دوهم سړی ويل: زما ميرمن خو ډېره خوش اخلاقه ده هره مياشت راته خاندی
لومړی سړی ويل: هغه څنگه؟
دوهم سړی ويل: چې کله معاش واخلم.

## خوشالی

يو سړی فالگر ته لاس ونيوه فالگر لاس کتو نه وروسته وويل: ستا زړښت به ډېر په سکون او ارام سره تيريږي
سړی ډېر خوشاله شو ويل يې: ښه،ښه پوهه شوم لکه چې ميـرمن بهلـه مانه مخکی ددي نړۍ سترگی پټوي.

## کيسه بر

يو سړی کيسه بر د جيب پری کولو په وخت کې راگيـر کـړ ورتـه يـې وويل: ته نه شرميږي چې زما جيب پری کوی
کيسه بر د لاس ټک وهلو سره وويل: شرم خو تا ته په کار دی چې تش جيب گرځي.

## عکس

یو سړی په عکس خانه کې خپل عکس ویستلی و او د عکس اخیستو لپاره عکسخانې ته ورغلی وو دوکاندار ورته وښود، سړی په خفګان سره وویل: زه خو دا عکس نه اخلم ...په دې کې عکس کې خو میالو غوندې ښکارم

دوکاندار ورته وویل: نو دا فکر به دې د عکس ویستو نه مخکې کړی و.

## سبب

ملاصیب د حومات نه راوتلو سره یو کس د جومات غاړې سره پړمخه پروت ولید نو ورنږدې کیدو سره یې وویل: ته لکه چې د شرابو نشې دا حال ته رسولی یې؟

سړی د پاڅیدو سره وویل: نه ملاصیب داسې نه زه کیلې پوټکې دې جال ته رسولی یم.

## کومو خلکو...

یو لنډ قدې تجار د ګمرګ دفتر ته دننه شو یو خوا بلې خوا یې مامورینو ته کتل دې وخت کې د یو کس پرې پام شو ورته یې ویل یې: ښآغلیه! دچاسره مو کار دی؟

تجار ورته ویل: نه هسې دې لیدو ته راغلی یم چې وګورم شپه او ورځ د کومو خلکو لپاره کار کوم؟

## پوره من

یو انګریز ته یو سړی جـامی درنګولـو لپـاره راوړی وي انګریـز تـرې وپوښتل: کوم یو رنګ ورکړم؟
سړی ورته ویل: سپین،سور،تور،شین،خړاو نیله رنګ نه بغیر چې هر رنګ وي.
انګریز ددی خـبرو اوریـدو سره وویـل: ښـه خـبره ده داسـی وکـړه د شنبی،یکشنبی،دوشنبی،سه شنبی،چهارشنبی او پنج شـنبی او جمعـی نه بغیر چې بله هره ورځ راغلی بیا به جامی ویوسی.

## پیر او پلار

یو پیر صیب داوړدی چیلی کولو نه وروسته راستون شوی وو، دهغـه لیدو ته یو کس راغلی و د یو چنې نه یې پوښتنه وکړه:پیر صیب چیرته دی ضروری کار ورسره لرم.
چنې ورته وویل: ماته ویلی شې چې څه ضروری کار ورسره لری؟
سړی ورته وویل: زه یې پلار یم دکلی نـه راغلـی یـم دا شـپږ میاشـتی کیږی چې د کور خرچه یې نه ده رالیږلی.

## رخصتیانی

دوه انډیوالان ډیره مـوده وروسـته د یوبـل سره مـخ شـوي وو،یـو د بارلمان وکیل او بل د ولایتی شورا وکیل و.

د پارلمان وکیل د ولایتی شورا وکیل نه وپوښتل: وکیل صیب ستاسی روخصتی په کال کې څومره وي؟
د ولایتی شورا وکیل ویل: په کال کې دا شپږ میاشتي په رخصتی کې تیروو او تاسی؟
د پالمان وکیل ورته ویل: بیا مونږ ستاسی په نسبت ښه یو د کال یوولس میاشتی رخصتی کوو

## باور

میرمن د خپل خاوند نه وپوښتل: رښتیا راتهووایه چې له ماسره څومره مینه لری؟
خاوند جذباتي کیدو سره وویل: ډېره زیاته مینه درسره لرم
میرمن ورته وویل: ښه دا راته ووایه که مړه شوم بیا به څه کوي؟
خاوند ورته په سینی لاس ایښودو سره وویل: لیونی به شم
میرمن ورته اندیښنی سره وویل: بل واده خو به نه کوی؟
خاوند ورته ویل: گوره ښځي په لیونی باور نه دی پکار هرڅه هم کولای شي.

## مشوره

یو کس خپل دوست ته زنگ وهلو په غلطی کې سره د یو هټیوال نمبر روغ شو زنگ وهوونکی کس اړیکه پری کول مناسب ونه ؛ بل نو هټیوال ته یې ویل: له تاسره به سوجی وي؟

هېوال وويل: هو شته دی
زنګ وهوونکی وويل: غوړی او بوره به هم وي
هېوال د خوښې سره وويل: هو صاحبه دری واړه شته دی
زنګ ووهونکی ورته وويل: نوبيا څه لا تر حلوا نه جوړوي.

## د زړورتيا کيسه

ريحان:کيهانه ته ياره د خپلی زړورتيا يوه کيسه خو راته وکړه
کيهان: ياره زه به  په څو  څو ورځو ويښ ومه
ريحان: نو دشپې به دی څه کول؟
کيهان: د شپې به مې خوبونه کول

## د مينې پيل

ديو ښځې نه د هغې ګاونډۍ وپوښتل: دا راته ووايه  چې ستا ددوهم خاوند سره لومړی ليدنه څّ وخت وشوه؟
ښځې ورته په ځواب کې وويل: په ډېر مينه ناک انداز سره، زه د خپل لومړی خاوند سره  د سړک يوی غاړي نه بلی غاړی  ته پوری  وتمه چې پدی وخت کې  يو تيز رفتاره موټر  زما لومړی خاوند چکنی کړ موټر زما د ددوهم خاوند و په همدغه شيبه کې زمونږه دوستی او مينه پيل شوه .

## هی هی مبایله

خاوند په غوسې سره وویل: دا څنګه اینګولې دی پوخ کړی نه په کـې مالګه شته او نه مرچک...ټوله ورځ دی مبایل مخ ته نیولی وي څو ځله مې درته ویلي چې پخلنځي ته ځي مبایل درسره بندوه

میرمن ورته وویل: ته خپله مبایل یو خوته کیده او د څه وخت نـه دی ګورم چې د ډوډۍ کپ د اوبو په جام کې لمدوې.

## مدنی فعال

په یوی غونډې کې د ډېر خنډ وروسته یو مدنی فعال ته د وینـا نوبـت ورسیدو دریځ ته د ودریدو سره یې وویل: ملګرو خبره داسې ده نـن د والي صیب لخوا د چایو میلمستیا لپاره دعوت شـوی وم دومـره زیـات مټایان مې وخوړل که یو بل مټاهی مې خوړلای وای نو دخبرو ورې به نه وای پاتې شوي.

دناستو کسانو د اخیری چوکی نه غږ راغی ورکړی یو بـل مټـاهی چـې خوله یې بنده شي.

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !

زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇

https://t.me/AryanPashtoLibrary


واټساپ نمبر:

00971501455350

زموږ فیسبوک پاڼه 👇



آریان پښتو کتابتون




پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځاریځ !

زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇

https://t.me/AryanPashtoLibrary

واټساپ نمبر:

00971501455350

زموږ فیسبوک پاڼه 👇

آریان پښتو کتابتون